لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». «په دنيا کې هېڅ بنده د بل بنده پرده نه کوي مګر دا چې د قيامت په ورځ به الله تعالى د هغه پرده وکړي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». «په دنيا کې هېڅ بنده د بل بنده پرده نه کوي مګر دا چې د قيامت په ورځ به الله تعالى د هغه پرده وکړي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هېڅ مسلمان په يوه چاره کې د خپل مسلمان ورور پرده نه کوي مګر دا چې الله جل جلاله به يې د قيامت په ورځ پرده وکړي؛ ځکه چې سزا د عمل له جنس څخه ده، او ده لره به د الله تعالى پرده دا وي چې عيبونه او ګناهونه به يې د محشر په ورځ خلکو ته نه رسوا کوي، او يا دا چې حساب به يې ورسره نه کوي او ورته به يې نه يادوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3777